
# ستاسو د EASYHALER® د کارولو لپاره لارښوونې

د Easyhaler® کارولو او ذخیره کولو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د کڅوړې دننه لارښود وګورئ.

## څنګه پیل وکړو؟

- هره نوې Easyhaler® وسیله په یوه ورقي یا فویلي کڅوړه کې راځي تر څو پوډر وچ وساتي.
- کڅوړه تر هغه وخته مه خلاصوئ تر څو چې تاسو د خپل Easyhaler® د ساه اخیستلو وسیلې کارولو ته چمتو نه یاست.
- د Easyhaler® وسیله د خولې یوه وسیله لري چې د لرې کولو وړ دوړو سرپوښ لري.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې د نه کارولو پر مهال د دوړو سرپوښ ستاسو د Easyhaler® وسیلې د خولې وسیله پوښي. دا به د هر ډول درملو په ناڅاپي ډول خپریدو مخه ونیسي.




## د EASYHALER® د لارښوونې ویډیو

د Easyhaler® کارولو څرنګوالي ویډیو لیدلو لپاره په دې پاڼه کې QR کوډ سکن کړئ.


تاسو کولای شئ د QR کوډونه د خپلې Easyhaler® وسیلې لیبل په اړخ کې، د کڅوړې په کارټن او د کڅوړې په لارښود پاڼو کې هم ومومئ.

په بدیله توګه، د دې مینځپانګې لیدلو لپاره www.oeh.fi/uk ته مراجعه وکړئ.

دا کوډ سکن کړئ


## له EASYHALER® څخه د دوز د کارولو څرنګوالی

### ۱. تکان ورکړئ




- د دوړو سرپوښ لرې کړئ.
- د ساه اخیستلو وسیله د خپلې اشارې او غټې ګوتې ترمنځ کېږدئ.
- **د ساه اخیستلو** وسیله په مستقیم حالت کې ۳-۵ ځله وخوځوئ.

### ۲. کلیک



- تر هغه وخته پورې **فشار ورکړئ** چې تاسو د یوه کلیک غږ واورئ.
- بیا یې بېرته خپل اصلي حالت ته پرېږدئ.


### ۳. ساه واخلئ



- په عادي ډول د وسیلې څخه لرې ساه بهر وباسئ.
- د ساه اخیستلو د وسیلې د خولې وسیله په خپله خوله کې کېږدئ، د خولې توټې شاوخوا خپلې شونډې په کلک ډول بندې کړئ.
- **یوه پیاوړې او ژوره ساه واخلئ.**
- د ساه اخیستلو وسیله له خولې څخه وباسئ او لږ تر لږه د ۵ ثانیو لپاره ساه ونیسئ.
- په عادي ډول ساه بهر وباسئ.
- که د نسخې له مخې تاسو ته اړ یاست چې له یوه څخه زیات دوز (خوراک) واخلئ، نو هر ځل چې تاسو خپله د تنفس وسیله کاروئ، له ۱ څخه تر ۳ پورې ګامونه تکرار کړئ. کله چې تاسو کار بشپړ کړئ، د خولې وسیله باندې د دوړو سرپوښ کېږدئ.
- که چېرې ستاسو Easyhaler® وسیله د تنفس له لارې کورټیکوسټراید (مخنیوی کوونکې) ولري، ډاډ ترلاسه کړئ چې خپله خوله او ستونی په اوبو سره ومینځئ او تو یې کړئ. مه یې تیروئ. دا به د خولې د فنګسي انتان (په ژبې باندې د سپینو موادو د) خطر کمولو کې مرسته وکړي.


# ستاسو د EASYHALER® د کارولو لپاره لارښوونې

## محافظتي پوښ




- محافظتي پوښ اختياري دی. محافظتي پوښ خلاص کړئ او د ساه اخيستلو وسيله پکې دننه کړئ.
- کله چې محافظتي پوښ کاروئ، پوښ خلاص کړئ او لاندې مرحلې تعقيب کړئ:
  **١. ويې ښوروئ، ٢. کليک وکړئ او ٣. ساه واخلئ.**
- د دوړو سرپوښ بدل کړئ او بيا پوښ په محافظتي پوښ وتړئ.

## پاکول



- د خولې وسيله د پاک وچ ټوکر يا کاغذ سره پاکه کړئ.
- د خپل Easyhaler® د پاکولو لپاره اوبه يا نور مايعات مه کاروئ. کېدای شي ستاسو د ساه اخيستلو وسيلې دننه پوډر د رطوبت په مقابل کې حساس وي.
- که چېرې تاسو د محافظتي پوښ څخه کار اخلئ، نو تاسو اړتيا نه لرئ چې د خولې ټوټې د پاکولو لپاره د ساه اخيستلو وسيله لرې کړئ.

## څه بايد وکړو کله چې...





### تاسو له يو ځل څخه ډير کليک کړی وي؟

- آيا تاسو په ناڅاپي ډول د ساه اخيستلو وسيله باندې کليک کړی؟ د مناسب دوز لپاره، دا مهمه ده چې يوازې يو ځل کليک وکړئ.

### تاسو د ساه اخيستلو په وسيله کې ساه بهر ايستلې وي؟

- آيا تاسو د ساه اخيستلو په وسيله کې دننه ساه بهر وويسته؟ دا مهمه ده چې تاسو د ساه اخيستلو وسيلې کې ساه ونه باسئ ځکه چې کېدای شي دا د ساه اخيستلو وسيله بنده کړي.


### حل لاره



### د خولې وسيله خالي کړئ!

- د خولې وسيله کېکاږئ تر څو پوډر په ميز يا په ورغوي کې واچوي.
- وروسته د لاندې ګامونو سره يې بيا پيل کړئ:
  **١. ويې ښوروئ، ٢. کليک وکړئ او ٣. ساه واخلئ.**

## د نوي EASYHALER وسيلې ترلاسه کول



د دوز شمېرونکی

- د ساه اخيستلو وسيله په څنګ کې د دوز شمېرونکی لري. دا ښيي چې ستاسو په وسيله کې څومره دوزونه (خوراکونه) پاتې دي.
- د هرو ۵ دوزونو (خوراکونو) وروسته شمېرونکی بدلېږي او ښودل شوی شمير د ۱۰ واحدونو په اندازه کمېږي.
- کله چې د دوز شمېرونکی سور شي، نو ۲۰ دوزونه (خوراکونه) پاتې وي. که تاسو لا له مخکې نوی د ساه اخيستلو وسيله نه لرئ، نو د نوي نسخې لپاره له خپل ډاکټر سره اړيکه ونيسئ.
- **کله چې شمېرونکی ۰ ته ورسيږي، تاسو اړتيا لرئ چې د ساه اخيستلو وسيله بدله کړئ.**
- که چېرې محافظتي پوښ کاروئ، نو مهرباني وکړئ دا د خپل راتلونکي ساه اخيستونکي وسيلې سره د کارولو لپاره وساتئ.

که تاسو کوم جانبي عوارض ولرئ، نو له خپل ډاکټر، درمل جوړونکي يا نرس سره خبرې وکړئ.
په دې کې هر هغه احتمالي جانبي عوارض شامل دي چې د بستې په لارښود پاڼه کې ذکر شوي نه دي.
تاسو کولای شئ د ژير کارت طرحې (Yellow Card Scheme) له لارې هم په مستقيم ډول د جانبي عوارضو په اړه راپور ورکړئ: www.mhra.gov.uk/yellowcard.
د جانبي عوارضو په اړه راپور ورکولو سره، تاسو کولای شئ
د درملو د خونديتوب په اړه د نورو معلوماتو په چمتو کولو کې مرسته وکړئ.

MAT-GB-EH-012026-0112/۲۰۲۶ جنوري

دا مواد د بيا کارول شوي کاغذ په کارولو سره توليد شوي دي

Orion Pharma (UK) Ltd
The Blade, Abbey Square Reading, Berks, RG1 3BE